ليکوال: سباون زرمل نيټه ۲۰۱۰-۱۲-۰۷

# د پار الماني ټاکنو نتجې اعلان شوې

با الاخره پس له ۷٤ ورځو د ۱۳۸۹ کال د پار الماني ټاکنو نتجې اعلان شوی او ملا معنوی ثابته کړه چې په رښتیا هم په ده باندی د هيچا زور نه رسيږی او لکه څرنگه چې د کمسيون ویاند نور په اوله ورځ په ډير تمسخر سره ويلی وو چې موږ به و گورو چې څارنوالی څه کولای شی. وائی هوښيار بايد داسی کار او خبره و نکړی چې بيا وروسته پښيمانی را منځ ته کړی. نو زه نه پوهيږم چې دا لوی څارنوال او د هغه مرستيال ولی خلکو ته تشی و عدی ورکولی او دځپل زور او قدرت نه پورته خبری ئی کولی چې موږ به د انتخاباتو نتجی و څيړو موږ به تورن کسان محکمی ته وليږو او دوی بوازی دومره و کړل چې څو نفره صرافان را کښ کړی. ايا لوی څارنوالی ته دا نه وه ثابته شوی چې په دی هيواد کی ډير داسی کسان شته چې د هغو قدرت اوزور د کرزی نه لوړ ده او د هغو خبری تر قانون پورته دی ايا لوی څارنوالی ته د عبدا لجبار ثابت اجراتو نه وه په اثبات رسولی چې لوی څارنوالی بوازی کولای شی چې بی واسطی او بی ډوډی عادی خلک را کښ کړی او د نظار شورا محترم غړی او پلويان ټول واجب الاحترام او د قانون نه پورته دی. اوس به راشو د انتخاباتو نتيجی ته، دولسی جرگی انتخابات لکه چې په زر هاو اسناد موجود دی ټول له درغلی نه ډک وو په ميليونونه په پاکستان کی چاپ شوی رائی په کی و کار رول شوی او د پښتنو په سيمو کی په درواغو دامنيت په بهانه د رايو مرکزونه وتړل شول او د پښتنو د کاميابيدو مخه ونيول شوه. په زر هاو داسی مثالونه او اسناد موجود دی او کله چې انتخابات سرته ورسيدل او د رايو صندقونه کمسيون ته را نقل شول بيا نو د دوهم ځل لپاره د ملا معنوی تر نظر لاندی داسی لاسوهنی وشوی چې هر هغه څوک چې د معنوی خوښ نه وو نو هغه ناکام شو او هر هغه چا چې د معنوی حق ورکړی وو هغه کامياب شول اصلا د رايو پانو ته هيڅ ارزښت ور نکړ شو هر هغه څه چې او الامر معنوی غوښتل همغسی و شول تاسی و گوری د اسمعيل خان لاسوهنی د نړی په سطح رسوا شوی ولی هيچا حتی د اسمعيل خان نه پو ښتنه هم و نکړه بيا و گوری چې لوی څارنوال د تلويزيون له لاری اسناد خلکو ته لولی چې په کی ليکل شوی چې د وکيل د کاميابيدو په صورت کی به دوه لکه او شل زره ډالره ورکول کيږی ولی لوی څارنوالی حتی د کمسيون دفتر ته د ورتگ نه هم ډاريږی ايا لوی څارنوالی د معنوی نه کومه پوښتنه و کړه. د مشرانو جرگه اعلان کوی چې بايد د نتجو اعلان د لوی څارنوالی تر څيړنو پوری معطل شی او لوی څارنوالی هم کمسيون ته وائی چې بايد نتجی اعلان نشی ولی کمسيون دا ټول پيشنهادونه نه منی او نتيجی په يو آرخيز ډول اعلانوی او ټول هغه و کيلان چې په رشوت ورکولو او درغلی تورن شوی وو کامياب اعلانيږی. ملا معنوی په تمسخر سره وائی چې د غزنی نتجی اعلان شوی او دی د کرزی په تشويش باندی هم پوهيږی ولی دی د قانون سره سم عمل کوی ملا معنوی د خپلی خوښی کانديدان په لاندی کتگوريو کاميابی ته ورسول:

هغه کسان چې د نظار شورا غړی، پلويان او يا خوا خوږی وو
هغه کسان چې د هزاره توکم او ازبکو د قوم پوری تړلی وو او دنظار شورا پلويان وو
هغه کسان چې په افغانيت شرميږی او ځانونه افغانستانيان بولی
هغه کسان چې حق العضويت ئې په دوبی او سرای شهزاده کی د معنوی په حساب تحويل کړی وو
شايد د پښتنو د کاميابو وکيلانو شمير چې د رايو په اساس کامياب شوی وی ډير کم وی

ملا معنوی په تنها ئی سره دا کار نه کولای شول او نه ئی د دی توان درلوی چې په دومره سپين سترگی سره درغلی و کړی ولی هغه په دی کار کی بوازی نه وو معنوی د سترو اوبا قدرته حلقو له خوا حمايه کيده او د هغه څخه فهيم، خليلی، محقق، ربانی، دوستم، يونس قانونی او ځينی نوری خود غرض خارجی کړيو ملا تړ کاوو نو ځکه معنوی په ډاگه او په زړورتيا سره دومره لاس وهنی و کړی. معنوی او دهغه ډله د هغو د ستر مشر مسعود ارمانونه پوری کوی او دهغه د ارمانونو د پوره کولو لپاره د هيڅ ډول وسيلی او درغلی نه لاس نه اخلی د مسعود يو ستر ارمان د پښتنو له منځه وړل وو او د هغه بل ارمان دا وو چې د هيچا نه د (څوک ئی) کلمه وا نه اوری. او داکتر عبدالله د خپل وزارت په وخت کی څو واری د خارجی مطبوعاتو سره په مرکه کی ويلی وو چې د پښتنو فيصدی بوازی ديرش فيصده ده او اوس دا ده معنوی عملاً خلکو او نړيوالو ته وښوده چې پښتانه ديرش فيصده دی.
د انتخابات نتجې د هيچا لپاره د منلو وړ نه دی او دی نتجو په ډاگه وښوده چې دلته بوازی زور او زر کار کوی او د ملت سر نوشت بواز يو څو نفره ټوپک سالاران او پخوانی جنگ سالاران ټاکی اما موږ بايد تر ډيره حده پوری معنوی او د هغه ډله ملامته نکړو ځکه دا د هغی ډلی سرشت ده دا دهغو شعار ده چې بايد پښتانه و ځپل شی دا د هغو


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د ستر رهبر ارمان وو نو موږ ولی معنوی ملامت کړو موږ باید کرزی ملامت کړو چی آیا ده په دا لسو کلو کی دا خلک ونه پیژندل آیا د کرزی د حکومت ټوله ماتی د همدی ډلی د توطیو له امله نه ده هغه څرنګه په ټول افغانستان کی بل څوک نه وینی او مجبور وی چی په هر کار کی باید د نظار شورا نماینده موجود وی ایا کرزی په دی نپوهیږی چی د نظار شورا د هغه ورکه او دپښتنو ورکه غواړی. یوه کوچنی ولسوالی چی حتی د یو علاقداری نفوس هم نلری اما کرزی هغه په ولایت بدله کړه او بیا هرڅه د هغو په اختیار کی دی. کرزی صاحب باید مطمئن اوسی چی د سولی شورا نتجی به هم د پار المانی انتخاباتو نتجو ته ورته وی ځکه د سولی شورا رئیس هم له یوی خوا له کرزی نه امتیازات اخلی او خپل زوی او نور ملګری په کرزی باندی سفیران، والیان او وزیران مقرروی او له بلی خوا د سولی د ماتولو پلانونه جوړه وی نو را به شو اصلی خبری ته چی هغه داده چی د نظار شورا نه د عدالت، خدمت اد پښتنو د نیکنامی امید درلودل زموږ په ناپوهی دلالت کوی ا و ددی مسئول کرزی ده چی هغو ته داسی لوړ او با صلاحیته مقامونه ورکوی.

اوس به و ګورو چی لوی څارنوالی او مشرانو جرګه څه کولای شی دا زما باور ده چی هیڅ هم نشی کولای او کرزی به پارالمان ته ولاړ شی او په ټیټو سترګو به پا رلمان افتتاح کړی او د تل پشان به د پښتنو په حقوق پښه کیږدی. د کرزی نه د جرائت او میرانی طمع کول بیځایه ده هغه په دا لسو کلو کی هیڅ یو داسی کار نه ده کړی چی خلک او پښتانه به وربانندی و ویاړی مګرم د لوی څارنوال نه دا هیله کوو چی د معنوی سره مقابله کول خو نشی کولای او نه هم دا قدرت لری که دومره و کړی چی د خلکو په حضور کی ووائی چی ما دا خیانتونه ولیدل او څرنګه چی د هغو د څیړلو صلاحیت نلرم نو خپله استعفا کوم او همدارنګه که د مشرانو جرګه ځان د خلکو استازی بولی او یا هم د خلکو غوښتنی اوری نو باید د پارلمان در وازه و تړی. خو باور می نه راځی چی یو به هم دا کار و کړی. او که څارنوالی نور هم د دوسیو د څیړلو تکل و کړی نو ډیر ژر به د عبد الجبار ثابت په سرنوشت دچار شی. بله د خندا خبره می تیره شپه د اساسی قانون دڅیړلو د کمسیون درئیس ګل الرحمن قاضی نه واوریده چی هغه وویل دی به د انتخاباتو د کمسیون او لوی څارنوالی تر منځ جوړه و کړی اوس نو راشه که ګوری، قاضی صاحب په میاشتو میاشتو هلته پروت ده او په ډالرو معاش اخلی او اوس ئی نو ډالرو دومره سترګی ور پټی کړی چی دی د مجرم او لوی څارنوالی تر منځ جوړه کوی. لویه څارنوالی چیغی وهی او په سلهاو نور خلک چیغی وهی چی په انتخاباتو کی درغلی شوی او لوی څارنوالی ته مستند اسناد رسیدلی چی و کیلان د پیسو په بدل کی انتخاب شوی او د پښتنو حقوق تر پښو لاندی شوی او قاضی صاحب اوس راځی د کمسیون او لوی څارنوالی تر منځ سوله کوی آیا قاضی صاحب د اسمعیل خان خبری وا نه اوریدی، د لوی څارنوالی اسناد او د کابل هرات غزنی او شمالی ولایاتو نتجی و نه لیدی چی اساسی قانون او نور ټول قوانین تر پښو لاندی شوی او قاضی صاحب سوله کوی بلی قاضی صاحب هم وضعه درک کړی ده او پوهیږی چی څارنوالی خو دا موضوع نشی ګټلای او په واجب الاحترامو خلکو ئی زور نه رسیږی نو د لوی څارنوالی لپاره د ختې پزه جوړه وی او وائی چی دا موضوع ئی حل کړه. همغه د عبدالجبار ثابت قیصه ده چی د شمالی په لاره کی ئی ښه و ډباوو او وروسته ئی بیا څو نفره ورته را ولیږل او خبره ختمه شوه او پس له څو میاشتو ثابت هم برطرف شو نو اوس لوی څارنوالی ته هم یوه د ختو پزه په کار ده نور د هیچا زور په معنوی نه رسیږی.

دا زموږ د پښتُنو نصیب ده، سرونه مو لاړ شی، کورونه مو تباه شی کونډی او یتیمان را پاته شی جګړه و ګټو غلیم ته ماتی ورکړو مګرم قدرت بیا نورو ته پریږدو تر څو زموږ د وینو او سرونو په بیه دوی وربانندی چړچی و کړی. نو نپوهیږم چی کله به لوی رب په دی خوار او مظلوم ولس رحم کوی او دوی ته به یو پاک او ملی رهبر ټاکی تر څو نورو قومونو ته په درناوی سره د دوی د مشروع حقوقو نه دفاع و کړی. خو په خواشینی سره باید ووایم چی د کرزی صاحب نه د پښتنو د حقوقو دفاع کول هسی یو باطل خیال ده. او که خیر وو افغانستانیان به داځل دپارلمان له ستیج نه نور هم په پښتنو ملنډی ووهی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ